سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۶/۰۳

# بی له تا!

بی له تا وطنه، بی اوبو یـم بی هوا یــمه
جوړ له حسـرتونو، ناهیلیو ډکه دنیا یمـه

اور یمه ځان سیزم، کاني سیزم اوبه سیزمه
ډک چی له ایرو کاندی جنت هغه گناه یمه

پلوری چی لعلونه د کاغذ په خو تېټو باندی
زه د لا شعور ذهن، ړندو سترگو سودا یمه

باغ یـم د گلونـو تاسره، خـو بی لـه تا نه زه
ډکه له اغزو او له گلـو خــالي بیـدیا یمه

تاته چی در ځمه په کږو لارو هم سم درځم
بل خواته په سمه لاره ، کـوږ یمه خطـا یمه

ستا د خاورو گرد که می د سر د پاسه پریوته
خوار کلیوال نه یم، بیا غنی یمه پاچا یمه

بی له تا وطنه، بی هر څه یمه گــدا یمه
شـپه یمه تیاره یمه، بی برخی له رڼا یمه

مارچ / ۲۰۱۳
تورنتو ـ کاناډا